# د فدرالي حکومت تړل کېدو اغېز پر کال‌فریش (فوډ سټمپ) ډېرې پوښتنې او ځوابونه(FAQ)

## ولې د نومبر میاشتې د کال‌فریش (فوډ سټمپ) مرستې ځنډېدلې دي؟

فدرالي حکومت تړل شوی دی. تر هغه وخته چې حکومت بېرته نه پرانېستل شي، د ساکرامېنټو سلګونه زره اوسېدونکي به چې د کال‌فریش (فوډ سټمپ) مرستې ترلاسه کوي، د ۲۰۲۵ کال د نومبر میاشتې مرستې پې وځنډېږي. دا مهال د ساکرامېنټو په کاونټي کې له ۲۷۰ زرو څخه ډېر خلک د کال‌فریش له مرستو څخه ګټه اخلي.

## ایا زه به وکولای شم د ۲۰۲۵ کال د نومبر په میاشت کې د خپلې EBT کارت له لارې د کال‌فریش (فوډ سټمپ) مرستې وکاروم؟

هو، تاسو کولای شئ د فدرالي حکومت د تړل کېدو پر مهال هم د خپل EBT کارت له موجودو مرستو څخه د معمول په څېر استفاده وکړئ. که کوم بدلون رامنځته شي، موږ به تاسو ته تازه معلومات درکړو.

## که زه د نومبر په میاشت کې د خپل SAR 7 راپور یا د کال‌فریش مرستو د نوي کولو موده لرم، خو لا مې فورمونه نه دي لېږلي، نو څه باید وکړم؟

لطفاً ټول اړین فورمونه او د مرستو د نوي کولو غوښتنه د معمول په ډول وسپارئ. خو باید یادونه وشي چې د فدرالي حکومت د دوامدار تړل کېدو له امله کېدای شي د پروسس په چارو کې ځنډ رامنځته شي.

## ایا زه لا هم د نومبر په میاشت کې د نوو کال‌فریش (فوډ سټمپ) مرستو لپاره غوښتنه کولای شم؟

هو. تاسو کولای شئ د کال‌فریش مرستو لپاره په انلاین ډول د www.benefitscal.com له لارې غوښتنه وکړئ، د ټیلیفون له لارې په 1-877-847-3663 شمېرې زنګ ووهئ، یا په خپل سیمه‌ییز د ټولنیزو خدماتو دفتر کې په حضوري ډول غوښتنه وکړئ. د لا زیاتو معلوماتو لپاره، د www.benefitscal.com ویبپاڼه وګورئ.

د فدرالي حکومت د تړل کېدو او د اضافي بودجې د نه برابرولو له امله، کېدای شي ستاسو مرستې وځنډېږي.

## ایا د کاونټي د ټولنیزو خدماتو دفترونه لا هم پرانېستي دي؟

هو، د کاونټي د ټولنیزو خدماتو دفترونه لا هم پرانېستي دي. تاسو کولای شئ په حضوري ډول ورشئ، یا د 1-877-847-3663 شمېرې له لارې اړیکه ونیسئ. د حضوري ځایونو د لست لپاره، د ha.saccounty.gov ویبپاڼه وګورئ.

## زه په خپله ټولنه کې د خوړو اضافي سرچینې له کومه ځایه موندلی شم؟

تاسو کولای شئ د خپل سیمه‌ییز د خوړو له بانک څخه وړیا خواړه ترلاسه کړئ. په ټوله کالیفورنیا کې د خوړو بانکونه شته چې د خپلو ټولنو خلکو ته وړیا خواړه ورکوي. د خوړو د مرستې د موندلو لپاره، په 2-1-1 شمېرې زنګ ووهئ یا د sacramentofoodbank.org/find-food ویبپاڼه وګورئ.

## که زما د کال‌فریش (فوډ سټمپ) مرستې وځنډېږي یا رد شي، ایا زه حق لرم چې د ایالت له حکومت څخه د اورېدنې غوښتنه وکړم؟

هو، تاسو هر وخت کولای شئ د ایالت د اورېدنې غوښتنه وکړئ، خو قاضیان د فدرالي حکومت د تړل کېدو له امله، چې بودجه پې ځنډېدلې ده، مرستې نه‌شي تصویبولای. نه ایالت او نه هم کاونټي د مرستو د چټکولو لپاره څه کولای شي.

## ایا د نقدی یا (CalWORKs)مرستې هم له خطر سره مخ دي؟

اوس‌مهال تمه ده چې ایالت وکولای شي د ۲۰۲۵ کال د نومبر میاشتې لپاره د CalWORKs مرستو بودجه برابر کړي.
خو که د فدرالي حکومت تړل کېدل دوام ومومي، نو د ۲۰۲۵ کال د دسمبر میاشتې CalWORKs مرستې به له خطر سره مخ شي.